د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت
د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت
د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست
د جمعې ورځې د خطابت موضوع او
ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو
ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

۱۹/ ربيع الثاني /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۱۲ /عقرب /۱۴۰۲هـ، ش

# د شريعت د احکامو په رڼا کې د اولادونو ترمنځ دعدل رعايت کول.

إن الحمد لله، نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا من يهد الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين وسلم تسليما كثيرا أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى: { إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ وَإِيتَاء ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ } النحل : ۹۰

درنو اوريدونکو!

دالله تعالی دا لوی نعمت دی چې انسانان يې د يو پلار او يوې مور څخه پيدا کړل او بيا يې هغوی ته اولاد په تحفه کې ورکړل، نو اولاد د الله تعالی له لورې يوه تحفه ده . الله جل جلاله فرمايلي دي:{ وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَجَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ بَنِينَ وَحَفَدَةً وَرَزَقَكُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ}النحل: ۷۲
ترجمه: او الله تاسو لپاره ستاسو له جنسه جوړې پيدا کړي دي او تاسو لپاره يې ستاسو له جوړونه زامن او لمسي (اولادونه) پيدا کړي دي او تاسو ته يي له پاکيزه څيزونو څخه روزي درکړی ده .
اولاد داچې ستر نعمت دی په عين حال کې ددنيا ښايست او زينت دی. په دې خبره هغه خلک ډير ښه پوهيږي چې اولاد نلري او الله تعالی پری د اولاد پيرزونه نه ده کړی. الله جل جلاله فرمايلي دي: {الْمَالُ وَالْبَنُونَ زِينَةُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَالْبَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ خَيْرٌ عِنْدَ رَبِّكَ ثَوَابًا وَخَيْرٌ أَمَلًا} الکهف: ٤٦
ترجمه: مال او زامن خو ددنيوي ژوند زينت دی او باقي پاتې کيدونکي نيک عملونه ستاسو د رب په نزد د ثواب په لحاظ ترټولو غوره دي او د اميد په لحاظ ترټولو ښه.
پيغمبرانو د الله تعالی څخه د اولاد غوښتنه کړی. حضرت زکريا عليه السلام الله تعالی ته سوال وکړ چې ربه! ماته اولاد راکړه ترڅو زما وارث جوړ شي.{ فَهَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا * يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ وَاجْعَلْهُ رَبِّ رَضِيًّا} مريم: ٥، ٦

ترجمه : نو ته ماته له خپل جانب نه يو وارث راکړه چې وارث شي ددين زما او وارث شي ددين داولاد د يعقوب او دی وگرځوه ای ربه غوره شوی.

حضرت ابراهیم علیه السلام هم دالله تعالی څخه د نیک او صالح اولاد غوښتنه کړی وه. {رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّالِحِينَ} الصافات: ۱۰۰.

ترجمه: ای زما ربه ! ته ماته (زوی) راکړئ چې د صالحانو ځینې وي.

کله چي مونږ ته الله تعالی اولاد راکړی دی زمونږ وظیفه ده چې ددوی سالمه او نیکه تربیه وکړو او دوی ته د خپل توان په اندازه خوراک، څښاک او جامې ترتیب کړو او ددوی په سالمې تربیې کې هیڅ ډول کوتاهي او تقصیر ونکړو ،ځکه د نن ورځې ماشومان د صبا ورځې سرې او رهبران دي . همداوجه ده چې الله جل جلاله د اولاد په باره کې ځانګړې سپارښتنه کړی ده او فرمایلي یې دي:{ يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ} النساء: ۱۱

مفسرین کرام وایې ددې آیت معنا ده(فإنه في معنى يأمركم ويفرض عليكم) تفسير أبي السعود (۲/ ۱۵۰)

که چیرې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ژوند ته وګورو، وینو چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د اولاد په اړه ځانګړي لارښوونې کړي دي. نبي کریم صلی الله علیه وسلم د بچو د تربیت په اړه خاصه توجه کړی او ددوی جسمي او روحې په دواړو اړخونو یې ټینګار کړی دی.

د اولاد د سالمې تربیې له جملې څخه یو هم د هغوی په منځ کې عدالت رعایتول دي.

د اولادونو ترمنځ عدل رعایتول یو له مهمو موضوعاتو څخه ده.

د اولادونو ترمنځ د عدل رعایتولو څخه مراد هغوی په خوراک ، څښاک، کالو او جامو ، د تحفو په ورکړه کې حتی چې په مینه او مهربانۍ کې ټول یو شان ګڼل دي .

پر والدینو د اولادونو حق جوړیږي چې د هغوی ترمنځ تبعیض ونه کړي او د هغوی ترمنځ په رویه او سلوک کې عدل رعایت کړي په دې کار سره حسد او کینه د اولادونو ترمنځ نه پاتې کیږي او د کینې او بدبینی آفتونه یې له زړونو لیرې کیږي او د یوې کورنۍ اولادونه په خپل څنګ کې په متقابل احترام او کامل تفاهم سره ژوند کوي او دوستي او اخلاص او صفا او صمیمیت یې په کورونو کې سیوری خپروي.

نو د تعجب وړ خبره نه ده چې د اسلام لومړي ښوونکي - جناب رسول اکرم صلی الله علیه وسلم – ټول والدین او مربیان پـه مکرره توګه د اولادونو ترمنځ عدالت ته دعوت کوي. د ابو داوود په یوه روایت کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (اعْدِلُوا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ اعْدِلُوا بَيْنَ أَبْنَائِكُمْ). سنن أبى داود-ن (۳/ ۳۱۷)

د خپلو اولادونو ترمنځ عدالت رعایت کړئ ، د خپلو زامنو ترمنځ عدالت رعایت کړئ.
د امام بخاري په روایت کې راځي : (اعْدِلُوا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ فِي الْعَطِيَّةِ).صحيح البخاري ت (٦/ ٤٦٥)

ترجمه: عدالت کوئ د خپل اولاد ترمنځ په تحفه کې.

په يو حديث شريف کې راځي: ( عن النعمان بن بشير رضي الله عنه قال : أعطَاني أبِي عَطِيةً، فَقَالَت عُمرَةَ بِنتُ رَوَاحَةَ : لاَ أرضَي حتی تُشهِدَ رَسُولَ اللهِ صلی الله علیه وسلم فَأتيَ رَسُولَ اللهِ صلی الله علیه وسلم فَقَالَ : إنيِّ أعطَيتُ ابنِي مِن عَمرَةِ بِنتِ رَوَاحَةَ عَطِيةً، فَأمَرَتنِي أن أُشهِدَکَ يا رَسُولَ اللهِ ! قَالَ : أعطَيتَ سَائِرَ وَلَدِکَ مِثلَ هَذَا ؟ قَالَ : لا، قَالَ : فَاتَّقُوا اللهَ، وَاعدِلُوا بَينَ أولاَدِکُم قَالَ : فَرَجَعَ فَرَدَّ عَطِيتَهُ). صحيح البخاري

ترجمه: له نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: پلار مې څه ډالۍ راکړه، د رواحه لور عمره ( چې د ده مور ده ) وويل زه د تا په دې ډالۍ خوشحاله نه يم ، ترڅو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په هغو شاهد نشي . هماغه ؤ چې بشير د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو ويې ويل ما خپل زوی ته چې د عمره بنت رواحه له طرفه دی، څه بخشش ( ډالۍ ) ورکړ او عمرې بنت رواحه ما ته امر وکړ زه تا شاهد په دې خبره شاهد وگرځوم ای د الله رسوله ! رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : آيا نورو خپلو زامنوته دې د دې په شان ډالۍ ورکړې ده ؟ ويې ويل نه، ونبي عليه السلام و فرمايل : د الله نه وويرېږه او د اولاد ترمنځ عدالت وکړه ـــ راوي وايي: دی بيرته راستون شو او خپله ډالۍ يې واپس کړه .

او په بل لفظ کې راغلي : ای بشيره ! آيا له دې پرته بل زوی هم لرې ؟ ويې ويل: هو ! نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: آيا ټولوته دې داسې ډالۍ ورکړې ده ؟ ويې ويل نه، ويې فرمايل، نو ما په دې مه شاهد کوه، ځکه زه د ظلم په کار شاهدي نه ورکوم او په بل لفظ کې راغلي ـ په دې کار زما نه پرته بل څوک شاهد و گرځوه او بيا يې وويل آيا دا خوښوې چې په نيکۍ رسولو کې تا ته ټول برابر وي ؟ويې ويل :هو . رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : نو اوس داســې نه کوم او په بل لفظ کې راغلي : د خپل اولاد ترمنځ په ډالۍ ورکولو کې عدالت کوئ لکه چې تاســو خوښوئ چې په نيکۍ رسولو او مهربانۍ کې ستاسو ترمنځ عدالت وکړي .

په ځينو خلکو کې ډېر بد عادت دی چې هغوی د خپلو ټولو مهربانيو، مينه او محبت او هداياوو مستحق يواځې زامن گڼي او لوڼه د هر څه نه محروم وي. د هلکانو لپاره کالي اخلي ، د ښځو پيزار ورته اخلي خو لوڼه په دې جرم چې هغه لوڼه دي د مور او پلار له مهربانۍ محروم وي . که چيرې ورته وويل شي چې لور ته دې هم کالي وکړه، ځواب داوي چې هغه انجلۍ ده .د اسلام سپيڅلی دين ددې ډول ظلم او نابرابرۍ سره کلکه مبارزه کوي او د والدينو څخه غواړي چې اولاد په نر او ښځه مه تقسيموئ بلکې ددوی ترمنځ په هرڅه کې له عدل څخه کار واخلئ. دا معلومه نه ده چې خير په چا کې دی؟ په نرانو کې دی او که په جينکو کې دی. {آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا} النساء: ١١
په يو حديث کې شريف کې راځي: (عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- :( سَوُّوا بَيْنَ أَوْلاَدِكُمْ فِى الْعَطِيَّةِ فَلَوْ كُنْتُ مُفَضِّلاً أَحَدًا لَفَضَّلْتُ النِّسَاءَ ). السنن الکبری للبيهقي. ط المعارف بالهند (٦/ ١٧٧)

ترجمه:عدالت کوئ د خپلو اولادونو ترمنځ په ډالۍ کې،که چيرې يو کس غوره گڼلی نوخامخا غوره کړی به مې وای زنانه.

د نر او ښځې ترمنځ د عدالت په اړه په يو حديث شريف کې راځي:(عَن أَنَس -رضي الله عنه-: أَنَّ رَجُلا كَانَ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَجَاءَ ابْنٌ لَهُ فَقَبَّلَهُ وَأَقْعَدَهُ عَلَى فَخِذِهِ وَجَاءَتْهُ بُنَيَّةٌ لَهُ فَأَجْلَسَهَا بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-: أَلا سَوَّيْتَ بَيْنَهُمَا). مسند البزار (٢/ ٢٨١)

ترجمه: د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې یوسړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ؤ چې د هغه سړي زوی راغی هغه یې ښکل کړ او په خپل ورون باندې یې کینولو بیا دهغه لورکۍ راغله هغه یې خپلې مخې ته کینوله ، نبي علیه السلام ورته وفرمایل: ولې دې ددوی دواړ ترمنځ عدالت ونکړ؟

بې عدالتي په ماشومانو کې د یو بل په وړاندې کینه رامینځته کوي او زموږ لپاره د یوسف علیه السلام په کیسه کې یو درس پروت دی ، کله چې ورونو وویل:(یوسف او د هغه ورور زموږ پلار ته تر موږ ډیر گران دي). حال دا چې یعقوب علیه السلام عادل ؤ ، خو د هغه د زړه مینه د دې لامل شوه، چې د یوسف علیه السلام لپاره یې د مرگ تدبیر ونیولو.

یعقوب علیه السـلام یوسـف علیه السـلام ته وویل: (ای زما زویه، خپل خوبونه خپلو ورونو ته مه بیانوه، کنه دوی به ستاسو په وړاندې دسیسه جوړه کړي).

همـدا راز ځینې خلک د خپل مال او جایداد زیاته برخه د یو زوی په نامه کړي او هغه ته یې تملیک کړي چې دا هم ظلم دی.

همدارنگه ذکر شوی حدیث  موږ د ظلم څخه د اولادونو ترمنځ چې ځینو ته په ځینو نورو غوره والی ورکړ شي ان تردې چې په بخشش او ډالۍ ورکولو کې ویرولي یو، بنا پردې د اولادونو ترمنځ نه عدل کول دښمنۍ او جگړې را پیدا کوي، او د هغوی ترمنځ کینه او بغض  منځ ته راوړي او د اولاد دعاقوالي لامل کیږي .

او یو عدل دا دی  چې هریوه ته د ضرورت په کچه ورکړه وشي مثلا مریض هغه څه ته اړتیا لري چې د روغتیا خاوند یې نه ورته لري او کوم زوی چې په زده کړه او تعلیم خپل ځان مشغول کړی هغه د هغه په پرتله چې کار او دنده لري زیاته اړتیا حس کوي او کوم زوی چې د لومړۍ ابتدایي دورې شاگرد وي د هغه لگښت د هغه زوی په کچه نه دی کوم چې په لوړو زده کړو اخته دی .

لنډه دا چې د عدالت مراعاتول د اولادونو ترمنځ په بخشش او ډالۍ ورکولو پورې منحصره او بنده نه ده بلکې عدالت په روزنه او زده کړه کې هم باید په نظر کې ونیول شي، نوله دې کبله د اولاد په هکله باید په مینه او محبت ور کولو کې هم له عدالت څخه کار واخیستل شي .
د همدې امله تابعینو رضوان الله اجمعین د خپلو اولادونو ترمنځ عدل رعایت کولو حتی په مچو اخیستلو کې.
(عن إبراهيم قال كانوا يستحبون أن يعدل الرجل بين ولده حتى في القبل) مصنف ابن أبي شيبة (٦/ ٢٣٤)
ترجمه: د ابراهیم نخعي رح څخه روایت دی هغه وایې سـلف صـالحینو به غوره گڼل چې د خپلو اولادونو ترمنځ عدل رعایت کړ حتی چې په مچو اخیستلو کې.

حضرت عمربن عبدالعزیز رح به خپل زوی ځان ته رانږدې کړ چې له هغه سره به یې زیاته مینه کوله خو بیا به یې هم ورته ویل: (يا فلان، والله إني لأحبك وما أستطيع أن أوثرك على أخيك بلقمة) ای زویه ! زه درسره زیاته مینه لرم مگر نشم کولای چې تا بهتره کړم ستا په ورور باندې په یوه مړه ډوډۍ کې.

اخْتَلَفَ الْعُلَمَاءُ فِي وُجُوبِ التَّسْوِيَةِ بَيْنَ الأَوْلاَدِ فِي الْعَطِيَّةِ.

فَذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ وَالْمَالِكِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ إِلَى أَنَّ التَّسْوِيَةَ بَيْنَهُمْ فِي الْعَطَايَا مُسْتَحَبَّةٌ ، وَلَيْسَتْ وَاجِبَةً.

لأِنَّ الصِّدِّيقَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَضَّل عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عَلَى غَيْرِهَا مِنْ أَوْلاَدِهِ فِي هِبَةٍ ، وَفَضَّل عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ابْنَهُ عَاصِمًا بِشَيْءٍ مِنَ الْعَطِيَّةِ عَلَى غَيْرِهِ مِنْ أَوْلاَدِهِ. وَلأِنَّ فِي قَوْلِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ رِوَايَاتِ حَدِيثِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا : فَأَشْهِدْ عَلَى هَذَا غَيْرِي مَا يَدُل عَلَى الْجَوَازِ . الموسوعة الفقهية الكويتية (١١/ ٣٥٩)

فقهای کرام وايې په تحفه کې د اولادونو ترمنځ عدل مستحب عمل دی ،ځکه ابوبکر صديق رضي الله حضرت عائشې ته د نورو اولادونو په نسبت د اضافي هديه په ورکولو فضيلت ورکړی دی او حضرت عمر فاروق رضي الله عنه خپل زوی عاصم ته دنورو زامنو په نسبت يې يو څه زياته تحفه ورکړی وه. بله داچې د نبي عليه السلام په ځينو رواياتو راځي د نعمان بن بشير رضي الله عنه په روايت کې راځي چې نبي عليه السلام وفرمايل: په دې باندې له ما څخه علاوه بل څوک شاهد وګرځوه چې دا د جواز دليل دی.

په ځينو وختونو کې د اولادونو ترمنځ عدالت رعايتول مشکل وي لکه يو چې په مدرسه کې طالب علم وي او پيسو ته اړوي پلار کولای شي چې هغه ته دنوروو ورونو په نسبت هغه ته زيات مصارف ورکړي.

همدا راز که چيرې کوم ځوی له قد څخه لوړ وي ، پلار کولای شي چې د هغه دجامو لپاره زيات ټوکر راونيسي.